رياض چکنوری ۲۰۲۰/۱۲/۱۵

# انتخاب

د سریتوب په جوهر رنګ هغه انسان خوښوم

د اعتدال تاج يي په سر عادل سلطان خوښوم

چې د بشر د خیر خواهی لاره کي ستری ځغلي

د هغه شخص درنښت عزت ښکاره عیان خوښوم

هغه حکیم چي په حکمت سره دوه زرونه تري

دا رنګ هنر دارنګه فن د هرفنان خوښوم

چي پيمانه او تله دواړه په انصاف کاروي

زه هغه کس او پیمانه تول او میزان خوښوم

د جهالت او د ظلمت مقابلي په فکر

د انسان نسل ته سواد تعلیم عرفان خوښوم

چي اختراع ایجاد او کشف کړي تولني لره

هر مثبت ګام د مخترع او ساینسدان خوښوم

حسد نفرت غچ او بدله د بربادی نښه ده

د نفاق اور باندي تیز ځاځکي د باران خوښوم



کاکامراد "تیڅو ناکه مورا - Tetsu Nakamura"

صبر ګذشت او درګذر کي د تولني خیر وي

د تیر حالت ستوغ خاطرات هېر له اذهان خوښوم

جنګ او جګړو رقابتونو نه انسان ستری دی

انسانیت ته سوله ، امن او امان خوښوم

مُلک مي کنډر ملت زخمي یتیم معلول بي حساب

زرونه کوښږ عوام را تول وطن ودان خوښوم



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com

چي د ولس ، هېواد د خیر فکر یي سر کی وی تل

په هغه سر باندي پټکی د لو ی افغان خوښوم

د ښه انسان لوی علامت لوړ او اعلَی اخلاق دي

په دغه وصف متصف زاړه ځوانان خوښوم

د پرهېزګار عالم کردار وعظ او بیان مي خوښ دی

د ښه لیکوال ماهر شاعر دفتر دیوان خوښوم

زه د دنیا ښکلي فطرت نه کیف او لطف اخلم

غر سمندر ګُل او نیالګی مالیار باغوان خوښوم

ځمکه هوا لمر او سپوږمی بحر جماد او نبات

ښکلي خلقت کي ښایسته ستوري او آسمان خوښوم

زما فطرت اکثر خاموشه چاپېریال خوښوی

کله ښه شعر په خوږ غږ د غزل خوان خوښوم

هغه مجلس کي چي د میني ښه ستاینه کیږي

داسي شیرین لذیذ محفل کور او مکان خوښوم

د دین ملت او د وطن خدمت مقصد ګڼمه

په دغه لار د هر کاروان منت احسان خوښوم

د خپل ملت سره مي مینه او الفت لرمه

کلي ښارونه د خپل خوږ افغانستان خوښوم

داسي هم شته چي ځان قربان کړي په خدمت کی د بل

"کاکا مراد " په شان خادم مردِ میدان خوښوم [1]

که ماندېلا ؤ که ګاندي یا تولستوی د عصر

---

[1] کاکا مراد " ناکامورا - Tetsu Nakamura " هغه با وجدانه جاپانی ډاکټر او انجینیر ؤ چي زمونږ د وران ویجاړ هېواد په جوړولو او سمسورولو کي یي په ډېره مینه خپل فکري ، ژبني او بدني صلاحیتونه وکارول ، په دغه هدف ډېر مخ په وړاندي روان ؤ ، خو زمونږ د خاورې او ولس دښمنانودغه رینټتنی بشردوست او خیرخواه بشر په تروریستي حمله کي په قتل ورساوه ، دغه "ناکامورا" د افغانستان خلکو د "کاکا مراد" په نامه ونوماوه ، انشاء الله زمونږ د وطن په تاریخ کي به یي نوم په روښانه او جلي کرښو لیکل کیږي :

هر گز نمیرد آنکه دلش زنده شد به عشق

ثبت است بر جریدۀ عالم دوام ما

د صلحي کار کي دغه رنګ قهرمانان خوښوم

د لوی اقبال په نثر نظم کي تاثير منمه
د بيداری ، خودی پيغام يي هر زمان خوښوم
زما وطن کي مدبر راسخ رجال تېر شوي
د هر يو ببل د ژوند قصي تاريخ داستان خوښوم
د غزنوي محمود پراخه سلطنت او دربار
د دی سلطان حسنِ سلوک طرحه پلان خوښوم
د بلخ " جلال " خپل مثنوي ته سوز ګداز عطاء کړ
دغه پيغام يي ډېر خور شوی په جهان خوښوم
د مجدد الفِ ثاني د دعوت شان عجيب ؤ
د شرک بدعت خلاف يي جهد او زبان خوښوم
عالي همت او لوړ تدبير د ميرويس خان ته درنښت
دغه شجاع زعيم رهبر او مهربان خوښوم
ملي وحدت بنسټ ګزار لوی احمد شاه ته ادب
د ستر با با پګړی وقار نوم او نښان خوښوم

لويه اروا ستر مبارز لوی مفکر د دهر
د افغاني سيد جمال عظمت او شان خوښوم
د مملکت د استقلال قايد سالار او سرخيل
د ځوان امير امان الله ستر ارمغان خوښوم
چي وي صوفي مرشد مصلح او مدرس او غازي
د نجم الدين هدی صاحب په شان غازيان خوښوم
د خپلي خاورې هر ملي او روحاني مشر ته
عزت اخلاص او درناوی د پير جوان خوښوم
د صحابه د قرباني مثال امم کي نشته
د دوی رتبه لوړ منزلت او پوخ ايمان خوښوم
اشرف مخلوق ته سنګين بار او امانت په اوږو
هر ازمايش ورته ښه سهل او اسان خوښوم



ارسال مقالات:info@arianafghanistan.com

خوف او رجاء کي يي را نغښتی د ژوندون امتحان
دي ازمايښت کي پناګاه د خپل رحمان خوښوم

د قبر خونه د نکير منکر سوال ته جواب
په نيک عمل باندي خلاصون د مسلمان خوښوم
"رياضه" وخت دي په غفلت او ګناهو کي تېر کړ
په هر عصيان دي نور تائب او پښېمان خوښوم

ر ياض چکنوری
اُفن باخ - آلمان

د دغه ليکوال نورو ليکنو لپاره، دلته کليک وکړئ



ارسال مقالات:info@arianafghanistan.com